د مؤمن چارې ته حیرانتیا ده، یقینا چې هره چاره یې په خپر ده، او دا (ځانګړتیا) له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته

له صهیب رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "د مؤمن چارې ته حیرانتیا ده، یقینا چې هره چاره یې په خپر ده، او دا (ځانګړتیا) له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته، که خوشحالي ورته ورسیږي نو شکر وباسي او دا د ده لپاره خیر دی، او که مصیبت ورته ورسیږي صبر کوي او دا د ده لپاره خیر دی".

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤمن چارې او ښو حالاتو ته حیرانتیا کوي، دا ځکه چې هره چاره یې په ګټه ده او دا ځانګړتیا له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته. که خوښي ور ورسیږي نو د الله شکر ادا کوي چې د شکر په پایله کې ورته اجر رسیږي. او که مصیبت ور ورسیږي نو صبر کوي او اجر یې له الله څخه غواړي، نو د صبر په پایله کې ورته اجر رسیږي، یعنې دا چې په هر حال کې اجر ورکول کیږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3298